**AFGHAN GERMAN ONLINE**

افغان جرمن آنلاین

http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

یارمحمد تره کی ـ ګلف پوهنتون

۲۰۱۹/۰۳/۱۶

# د رژیمونو په نسکورولو کی د زلمی خلیلزاد ونډه




زلمی خلیلزاد دادی د افغانستان په غمیزه کی د ځلوېښتو کلونو راهیسی ونډه او حضور لری. زلمی خلیل زاد هغه ځوک دی چی په ۱۳۵۷ کال کی یی جګړه افغانستان ته راوستله. ده د کانګرس دموکرات غړی چارلیس ولسن نه په الهام اخیستلو سره هڅه وکړه چی د مجاهدینو د معرفی او خرڅولو په مقابل کی یوه غوړه دولتی ځوکی تر لاسه کړی. په ۱۹۷۸ کال کی خلیلزاد لا سپینی ماڼی ته پوره لار نه وه پیدا کړی. ده دا کارپه سپینی ماڼی کی د خپل ځان د ځایولو لپاره وکړ. دی وو چی تنظیمی مشران یی سپینی ماڼی ته وروپیژاندل. په ۱۹۸۰ کال کی د ریګن د اداری د نوی پالیسی له مخی باید سره جګړه نوی پړاو ته ور داخله شوی وای. نو ددی کار لپاره د چارلس ویلسن تر څنګ د خلیلزاد غوندی کسانو ته هم ضرورت وو. د زلمی خلیلزاد له خوا د مجاهدینو د مشرانو راوستل واشنګتن ته او ددوی پیژندګلوی د رونالد ریګن سره دده لپاره یوه ستره بریا وه. خو مخکی له دی نه خلیلزا د جیمی کارتر اداری ته د خپل استاد البرت هولستیتیرله خوا ور پیژندل شوی وو. خلیل زاد د ملی امنیت په شورا کی ټیټ رتبه مامور و چی د زبیګنیف بریژینسکی تر مشری لاندی یی په افغانستان کی د سایکلون په نامه د عملیاتو طرح جوړوله. دغه عملیات د افغانستان د نوی چپ رژیم په وړاندی د مجاهدینو جذب، تربیه او تمویل وه. ددی ستراتیژی بله موخه افغانستان ته د شوروی اتحاد د پښو را داخلول وو. کله چی په ۱۹۷۸ کال کی دموکراتانو په ټاکنو کی ماتی وخوړه او یو ډیر جګړه مار د هالیوود د فلمونو اکتور د رونالد ریګن په نامه جمهور رییس شو، نو خلیلزاد ته دا یو زیری وو. ځکه دی په فکری لحاظ جمهوری غوښتونکو ته ډیر نژدی وو. د خلیلزاد په واسطه ریګن ته د مجاهدینو د پیژندګلوی حادثه دده لپاره د پرمختګ نوی دروازی پرانیستلی.

ددی پیژندګلوی نه وروسته خلیلزاد نور د ویزیتور یا میلمه کارت غاړی ته نکړ. نور نو دی د سپینی ماڼی خپل کس شو. په بل عبارت زلمی خلیلزاد د جمهوری غوښتونکو چارلس ولسن شو. د ۱۹۸۲ نه بیا تر ۱۹۸۹ کال پوری خلیلزاد د سپینی ماڼی، د بهرنیو چارو وزارت او دفاع وزارتونو کی په لوړو ځوکیو وظیفه اجرا کړه. په دی موده کی دی د جمهوری غوښتونکو په یوه فکری رهبر بدل شو. آن تر دی پوری چی ده په نړی کی د امریکی د طبیعی رهبری او د نورو ملتونو له خوا د امریکی د مشرتابه د رسمیت پیژندلو دوکتورین د جوړولوپه موخه ځو مقالی او مونوګرافونه ولیکل. خلیلزاد د سړی جګړی نه وروسته د امریکی په ونډی او رول باندی هم لیکنی وکړی. په ۱۹۹۸ کال کی خلیل زاد او ځو نورو جمهوری غوښتونکو دموکرات جمهور رییس بیل کلینتن ته لیک واستاوو چی د صدام



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

حسین رژیم راوپرځوی. په همدی علت کله چی په ۲۰۰۱ کال کی جورج بوش د امریکی جمهور رییس وټاکل شو نو خلیل زاد د لنډی مودی لپاره د دفاع وزیر دونالد رمزفیلد مرستیال وټاکل شو. څرنګه چی په ۱۹۹۸ کال کی خلیلزاد د عراق د رژیم د پرزولو وړاندیز کړی وو نو جورج بوش دی په ۲۰۰۲ کال کی د عراق لپاره خودمختاره سفیر وټاکو، تر څو د صدام حسین د ګوښه کولو چاری سمبال کړی. ده ته دا وظیفه په افغانستان کی د طالبانو د رژیم د نسکورولو د وظیفی تر څنګ ورکړ شوی وه. مخکی له دی نه خلیلزاد د ۲۰۰۱ کال په دسمبر کی د امریکی د خاص استازی په توګه مقرر شوی وو تر څو د طالبانو د رژیم د نسکورولو بند وبست وکړی. په بل عبارت زلمی خلیلزاد د رژیمونو د نسکورولو متخصص ګڼل کیږی.
زلمی خلیلزاد د خلق دموکراتیک رژیم تر آخری ورځی پوری د امریکی د دولت د پالیسی، د وسلو او مرستو د تنظیم په مرکز کی وو. خو کله چی جهادی تنظیمونو په کابل کی قدرت تر لاسه کړ، خلیلزاد خپله وظیفه اجراشوی وګڼله او ددولتی کار نه پرشاشو. ده په ۱۹۹۳ کال کی د پلټنو او پرمختګ ( رند) مرکز جوړ کړ او ددولتی ادارو نه به یی د خپلو پلټنو لپاره پروژی اخیستی. خلیلزاد د رند مرکز تر څنګ د جمهوری غوښتونکی ښی اړخه فکری مرکز – د نوی امریکایی پیړی مرکز سره هم کاری اړیکی درلودی.
خلیل زاد تخصصی ژوند د افغانستان د غمیزی سره تړاو لری. ده څلویښت کاله دغه وظیفه اجرا کړه. څو رژیمونه یی یو په بل پسی سقوط کړل، تر څو بالاخره د امریکایی قواوو د یرغل سره ورته ستر چانس په لاس ورغی. ده لمړی دا هوډ درلود چی د افغانستان ولسمشر شی. خو د لویی جرګی مخورو او ځینی تنظیمی مشرانو یی مخالفت وکړ. وروسته ده ښه وګڼله چی حامد کرزی مخته کړی او په خپله د پردی تر شاه پاچا اوسی. خو دده دغه پلان هم شنډ شواو حامد کرزی ډیر ژر له یوه عاجزه مادون نه قوی سیاست پوه ته بدل شو. د ۲۰۰۵ کال د جون په میاشت کی د افغانستان نه د ناامیدی نه وروسته په عراق کی د بوش د اداری له خوا د لوی سفیر په توګه وټاکل شو. په امریکی کی د خلیلزاد نوم بیا هم اوچت وو او په افغانستان او عراق کی د رژیمونو د پرزولو نه وروسته دواړو جمهوری غوښتونکو او دموکراتانو ده ته داحترام په سترګه کتل. په ۲۰۰۷ کال کی د سنا  مجلس په اتفاق د رایو زلمی خلیلزاد په ملګروملتونو کی د امریکی استازی وټاکو.  بیا زلمی خلیلزاد په ۲۰۰۹ کال کی د افغانستان د ولسمشری ټاکنو لپاره کمپاین پیل کړ. خو دده د کمپاین لمړی غونډه د ۲۰۰۹ د می په میاشت کی هغه وخت په دوبی کی ګډه وډه شوه چی د حکومت نه موظفو کسانو دده د کمپاین په محفل کی د امریکایی ناری ور باندی ووهلی. هغه عقده دده په زړه کی تر اوسه هم پاتی ده. ده په ۲۰۰۵ کال کی کله چی په کابل کی د امریکی سفیر وود چپو او دموکراتیکو سازمانونو استازو ته خبر داری ورکړ چی په سیاسی مسلو کی لاس ونه وهی او د لسو کلونو لپاره د سیاسی صحنی نه ورک شی.
په ۲۰۱۷ کال کی چی په امریکی کی یو نوی جګړه مار جمهور رییس د دونالد ترمپ په نامه ټاکنی وګټلی نو د بهرنیو چارو د وزارت د څوکی لپاره د کاندیدانو په ټول کی زلمی خلیلزاد هم وو. خو ډیر ژر دده امید په اوبو کی لاهو شو. د ترمپ په اداره کی ده ته هیڅ کار و نه موندل شو. تر څو چی د دونالد ترمپ د اداری څو مخورو وزیرانو استفاوی وکړی او یو بی تجربه او ناپوه کس د مایکل پمپیو په نامه د بهرنو چارو وزیر وټاکل شو. ددی لپاره چی د جمهور رییس اوامر په ښه توګه اجرا شی نو خلیلزاد بیا د پمپیو له خوا په افغانستان کی د خاص استازی په توګه وګمارل شو. دا وار د ترمپ داداری وظیفه نه د طالبانو راپرزول وو بلکه سیاسی صحنی ته د هغوی بیا راوستل وو. دا کار تر ټولو خلیلزاد ښه کولای شوای. د څلوېښتو کلونو نه وروسته حتی د خلیلزاد هم صنفیان او نژدی ملګری پوهیږی چی دی نه یوازی د خپل پلارنی وطن د نظام په ماتولو کی ، بلکه د نورو هیوادونو د نظامونو د راپرزولو مهندس دی. په ۲۰۰۷ کال کی د لمړی ځل لپاره زلمی خلیل زاد په رسمی توګه تور ولګاوو چی ایران د اټمی وسلو لپاره د یورانیم د غنی کولو په حال کی دی او باید پراخ بندیزونه ورباندی وضع شی. داسی هم ویل شوی دی چی خلیلزاد د ایران د رژیم د نسکورولو لپاره هم نسخی جوړی کړی دی. دده د رژیمونو د نسکورولو او د هیوادونو د جغرافیو د بدلون په لست کی د کوسوو د بیلتون غوښتنی او دکوسوو د یو جانبه استقلال مهندسی هم شامله ده ، چی د سربیا د هیواد په ویشل کیدو باندی ختمه شوه. کیدای شی زلمی خلیل زاد په افغانستان کی د رژیم او نظام د مهندسی نه وروسته تقاعد وکړی خو دده فکری او ورانوونکی نسخی به د ورو هیوادونو د نظامونو په ړنګولو کی د امریکی د متحده ایالاتو د ډیرو مشرانو د میزونو پر سر پرتی وی.
زلمی خلیل زاد او دده میرمن چیرل بینارد په اطریش کی بانکی حساب لری. په ۲۰۱۴ کال کی د اطریش په میدیا کی خبرونه نشر شول چی ګواکی د خلیلزاد او چیرل بانکی حساب د پیسو د مینځلو (منی لاندرنګ) له امله کنګل شوی دی. خو د همدی کال د سپتمبر په میاست کی د اطریش محکمی ددوی بانکی حساب بیرته پرانیست.
زلمی خلیلزاد چی هر هیواد ته تللی دی نو هلته یی امریکایی پوهنتون خلاص کړی دی. ده په کابل،د عراق په سلیمانیه او کردستان کی امریکایی پوهنتونونه جوړ کړی دی چی په هغو کی دده په شان امریکایی پلوه ځوانان تربیه شی.

یارمحمد تره کی – ګلف پوهنتون
د ۲۰۱۹ کال د مارچ ۱۵

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ